کره کتونکی: ډاکټر رحمت ربي زيرک يار

۱۱/۰۳/۰۸

# انجنير ځلمی د پښتونوالې په تال او د اسلام په زانګو کې

**کره کتونکی: ډاکټر رحمت ربي زيرک يار**

خپلواک څیړونکی، کلیفورنیا امریکا

۵ مارچ ۲۰۱۱

محمد حيدر ځلمی په ختّه سليمانخيل/احمد زی—پښتون افغان دی ، او د کندهار په ښارکې د باميزو په چم کې په ۱۹۵۲ زيـيز کې زيږيد لی دی. هلته يې په تيمور شاهي، ميرويس نيکه او احمد شاه بابا ښوونځيو کی زده کړې بشپړې کړې دي اوپه کابل پوهنتون کی د حقوقو او واکپوهنې (سياسي علومو) له پوهنځي نه په ۱۹۷۵ زيـيز کی په برياليتوب سره راوتلی دی. دی په يوې روڼ اندې کورنی کې زيږيد لی دی. پلار يې محمد عمر سليما نخيل نوميده چې «کله کله» به يې په اسناد و کې د احمد زي تخلص هم کاراوه. د پلار له خوا نيا يې نيازمينه نوميده، «ښـــه اشــعار» يې ويل او د ننګرها ر په جګدلک کی استوګنه وه. د مور له خوا نيا يې تاجوره نوميده. په ختّه ســـدوزی وه. « ډير ښه اشعار » به يې ويل اود کابل ښار د ارتن پل په سيمه کی اوسيد له. د محمد حيدر ځلمي پلار محمد عمر سليما نخيل د امان الله خان پاچاد واکمنی په مهال (۱۹۱۹تر۱۹۲۹) د حکامو په ښوونځي کی زده کړه کړې وه. دی «ډيرعالم» او «ډير مد بر » و او په ليک او وينا کی هم تکړه و. هغه د امان الله خان، محمد نادر خان، محمد ظاهرخان، او محمد داوود خان په حکومتونو کی « تقريبا ځلويښت » کاله په بيلا بيلو وظيفو کی د هيواد چوپړ کړی و. ځلمی ليکی چې: « زما پلار د ثور ۱۹۷۸ په کود تا کې د کابل نه د کوره وايستل سوبيا مو تر اوسه نه دی ليدلی او نه خبر لرو.» د ځلمي ځينې خپلوان د ننګر هارولايت په جګدلک کی اوسيږي، ځينی يې په کندهار کی، او پاتې يې د پښتونخوا په کوهاټ کي استوګن دي. د ځلمي مور بی بی کشوره نوميده چې په ۱۹۹۸ زيـيز کی حج ته لاړه او وروسته له راستنيدا يې په کويټه ښار کی په سل کلنی کی له نړۍ سترګي پټې کړې او په کندهار کی خاورو ته وسپارل شوه. د ځلمي يو نيکه عبد الله خان سليمان خيل د کندهار په ميوند ولسوالی کي هد يرې ته

سپارل شوی دی، او بل  نیکه یی عبدالعزیز خان د کابل ښارد ارتن پل په سیمه کې خاورو ته سپارل شوی دی چې په منګ له سلو کالو زیات و.

محمد حیدر زلمی په افغانستان کې له خلکي کودتا نه  نږدې اووه  او نی وړاندې د ۱۹۷۸زیږ د مارچ په څلورمه نیټه امریکی ته راورسید. دلته یې « ډېر سخت کارونه کړي » دي، او دلته « بلاخره انجنیر سوم.» د انجنیر زلمی تخصص د الوتکو په انجن کی و او« ډېر کار» یې د لاس انجلس په بین المللي هوایی ډ ګر کې کړی و.

انجنیر زلمی په امریکه کی د جمهوری ګوند غړی کیږي،خو «په رسمي ډول» ورنه وځي ځکه چی «ډېر ظالم او بیکاره خلک و[و].» له دینه وروسته د امریکي دموکرات ګوند ته ورننوځي، خو وایي چې له دې ګوند نه هم « په افتخا ر ووتلم » ځکه چې دواړه ګوندونه « یو ډول د امپراتوری او د ظلمونو طرفداران دي.» انجنیر زلمی کاږي چې ولسمشر بیل کلینتن، بارک  اوباما، او حامد  کرزي او طالبا ن مشر ملا  محمد عمرته یی لیکونه استولي وو، خو «د وی هیڅ اهمیت نه دی راکړی او نه زما د لیک جواب چا راکړی دی او زه یې هم پروا نه لرم.» د دې سره جوخت انجنیر محمد حیدر زلمی زیاتوی چې « زه په کی جي بي[د پخواني شوروي اتحاد استخبارات] او سي آی اې  کی نه وم او نه یم او نه به سم. دا زما لنډه سوانح ده » .

داسي بریښي چې انجنیر زلمي به ټول افغا نستان(لر او بر) له پښتو وپستلی وي. دی د لرې خوا په په کوېټه او پیښو رکي هغومره کوربه دی لکه د کا بل او کندها ر کوڅي او چمونه چې پیژني. ده د خیبر او سپین بولد ک په لارو کې خپلي څپلی زړې کړې دي. زلمي د لرې پښتونخوا  په پیښور او خیبر کې د احمد شاه بابا په جوماتونو کې لمونځونه کړي دي او په بره پښتونخوا کې یې د میرویس نیکه او احمد شاه بابا په مزارونو کې خپل ملي شعور تکور کړی دی. انجنیر زلمی د استعمار په تکه توره سمڅه کې د لالهند لاروي په شان تیندکونه خوري او د ټول افغانستان لالهند نسل ته د استعمار او امپریالیزم شوکي، ګوابنونه، یرغلونه، غوځوونکي کربښي او پټ پلانونه ور په ګوته کوي، او په کلیفورنیا ایا لت کې په خپل تغر خپل زوزات ته اسلام او خپله مورنۍ اوپلارنۍ ژبــه پښتو ورزد ه کوي. انجـنیر زلـمي د خوښي طبعي ، د روند خــوی ، تکــړه فکــراوساده ژوند خاوند دی ، د زده کړې او سیاست سره ډ یره علاقمندي ښئ، اودعدالت کلک پلوي دي. د خپلو شعرونو دوه پنډې ټولګي یې خپرې کــړې دي—یوه یې په ۴۷۷ مخونو کې او بــله یې په ۴۷۸ مـخونو کې. زه درته د انجنیر زلمي فکر د ده پــه خـپله ویـنا کــې  د ر پــیـژنم

«زما لیکـنې، وینــاوې اواشعــار د وطن اود نــړی د بیچاره او بادرکه انسانانو خوا نیسي.» (مـحـمد حیدر زلــمی، د مهاجرت انګازې.۱۳۸۷لمریز=۲۰۰۸ زیږ.دانش خپرندوی ټولنه،پېښور،مخ ۱).دی په خپل کتاب کې کاږي چې «عالمانو ته د قدر په سترګه وګورئ،او د عالمانو څخه استفاده وکړئ، خپل عالمان مه مجبوره کوئ چې د بیګانګانو مزدوران شي،اویا په وطنونو کې آواره شي او په مرګ او ژوند له تاسو څخه لیرې شي.» ښایي چې له همدې امله به انجنیر ځلمی د خپلو زده کړو په بریالیتوب کې چې په «ډېرو خواریو اوډیروسختو اقتصادي مشکلاتو» کې یې تر لاس کړی دی، د خپلو استادانو مننډوی وی: د کندهار اروابناد میرزا محمد یعقوب، د کندهار اروابناد حاجي محمد رسول، د کلا ت اروابناد مولانا مقر، د ننګرهار د سره رود اروابناد فضل ربي پژواک د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د  پوهنځي پوهاند، د کند هار د معروف ولسوالۍ موسی معروفي د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد، او د کونړونو ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان د کا بل پوهــنتون د ادبیاتو د پوهـنځي پوهاند چې «عالي رهنمایي» یــې ورته کــړې ده.(محمد حیدر ځلمی، د فکرونو تا ل،پامیر کمپوزینګ سنټر، پېښور، ۱۳۸۴ لمریز=۲۰۰۵ زیږ، زما ژوند ). لیکوال په خپل دې کتاب کې کاږي چې «سیاست پیروي نـه غــوړي سیاست

رهبري غواړي.» ور پسې ليکي چي:«هغه ملت اوهغه خلک چه نه متحد کيږي،او د وطن محبت او د کار اوخدمت کولو احساس پکښي نه راپورته کيږي[،] لکه وچه ونه اره کولو،تګه ولو،تراشلو او سوه ځلو ته اماده کيږي.»(مخ ۴۰۶). د انجينرځلمي د شعر خوند هم وڅکئ

کــوچنی وم ژړېـــــدلم هم رالوی شوم په ژړاکي — دا چا راته پيدا کړل چه پريشان يي لور په لور کړم
زه کاشکي يا ډېره يا لوی غر چه بي لـه روح وای — له هرځه به ازاد وای اوس د عقل نه څه جوړ کړم
ژراپرسترګو قهر کړي ورته وايي عادت پربږده — استــعـمار، استثمار، استبداد کوم يو غمخور کـړم

د هــمدي اثر ۲۶۴ مخ. انجـينر زلمی د خپـل بـل کتاب (د مهاجرت انګازي) په ۳۶۵ او ۳۶۶ مخـــونـــوکي د ډ يورنډ د رټـــلـــي او تــش په نـــامـــه لــيـــکي په اکـــلـــــه داســـي شعــر ويـــــلـــی دی

ډ يورنډه مخ دي وران شـــه موږ دي څنګه بي نوا کړو — وچـا ته واويـلا کړو
د پــلار او زوی په منځ کی تا په خط باندي جـدا کړو — وچـا ته واويـلا کړو
انګريـــزه مخ دي تور رشه تا وام څنــګه په ژړا کړو — وچـا ته واويـلا کړو
ډ يور نـــډه مخ دي تورشه موږ دي څنګه بی نوا کـړو — وچـا ته واويـلا کړو

انجينر زلمی کاږي چي «د نورو کتابونو په ليکلو مي هم شروع کړي ده، اشعار په پښتو، دري، او انګليسي ژبه وايم او ليکم يې. او خپلي فلسفي ويناوي هم ليکم....» ما زيرکيار د منلی انجنير محمد حيدر ځلمي له دوه شعري ټولګو نه خوند واخيست او د راتلونکو ليکنو په خپرولو کي ورته برياليتوب غواړم. زما سپارښتنه ور ته داده چي خپلي راتلونکي ليکني دي پخپله په کمپيو تر کي ټايپ او خپري کړي او له دي لاري دي دهغو بيخرته چاپي تيروتنو مخه ونيسي چي پيښور پکي د چا پي تيروتنو د پايتخت نوم ويستلی دی. ډاکټر زيرکيار